د چوکات 1.1 نسخه

ضمیمه: د مدغم کیدلو د پلان لارښود

# د مدغم کیدلو د پلان معلومات د هغه چا لپاره چې د مقدماتي پروګرام کې ونده اخلي

### د تاسو د مدغم کیدلو د پلان په هکله

- مقدماتي پروګرام ته د تاسو د ګډون لپاره د مدغم کیدلو پلان باید تاسو د او کمون د یو د بل په همکاري سره جوړ کړي. د تاسو ګډون په مقدماتي پروګرام کې تاسو ته د ژبې ، د ناروېژي د ټولني په هکله علم او معلومات ، رسمي علمي وړتیا او سندونه او د دایمي کار په هکله معلومات درکولو کې مرسته وکړي.هدف دا دې چې تاسو ژر په ناروېژي ټولنه کې مدغم شي او ددې تر څنګ تاسو د مالي له لحاظ خود کفا شي.

### د وړتیا ارزونه

- مخکې له دې چې د تاسو د مدغم کیدلو پلان جوړ شي تاسو د وړتیا د ارزوني هم حق او هم مکلفیت لرئ چې سر ته یې ورسوئ. دا ارزونه باید کم له کمه د ژبو بلدیت ، عالي تحصیلات ، د کار تجربه ، او نور اړونده علمیت او وړتیاوې چې تاسو لرئ ، په بر کې ولري.

### د حرفي یا کسب لارښونه

- تاسو  هم حق او  هم مکلفیت لرئ چې د کسب د لارښوني پروسه سرته ورسوئ.
د کسب لارښونه تاسو ته د کسبونو په هکله داسې معلومات درکوي چې تاسو کولای شي د کار او تحصیل لپاره پلان جوړ کړئ.

### د تاسو د مدغم کیدلو د پلان محتویات

- د مدغم کیدلو پلان باید د تاسو آخري هدف او د ناروېژي د ژبې هدف ، د زده کړې پلان ، څومره او څه موده تاسو کولای شي چې په مقدماتي پروګرام کې ګډون وکړئ او د شکایت کولو امکانات په بر کې ولري. د تاسو پلان باید د تحصیلاتو د ارزوني ، د کار د تجربې ، نوري وړتیاوې او علمیت چې کار پوري تړون لري او نور اړونده معلوماتو په اساس وي.

مقدماتي پروګرام باید کم له کمه لاندیني محتویات ولري:

a) د ناروېژي ژبې زده کړه
b) د ټولنیزو یا اجتماعیاتو زده کړه
c) د ژوند کولو د مهارت کورس
d) کاري او تحصیل اړونده کاروونه

ګډون کوونکې چې د 18 کلونو څخه کوچني ماشومان لري باید د مور او پلار د لارښووني په کورس کې ګډون وکړي.

مقدماتي پروګرام باید پوره وخت او مکمله کال وي.

### د تاسو نهايي هدف

- کمون باید تاسو ته په پروګرام کې د ګډون لپاره نهايي هدف وټاکي. نهايي هدف نظر د تاسو تحصیل ته تعیین شي.

### د ناروېژي د ژبې لپاره هدف

- د ناروېژي د ژبې په پروګرام یا کورس کې ګډون کوونکي باید د ناروېژي د ژبې ټیټه سویه لاس ته راوړي. کمون او ولایت باید په زده کړه کې کوشش وکړي چې ګډون کوونکي کم له کمه هغه ټیټه کچه ناروېژي ژبه یاده کړي.

**د تاسو د مدغم کیدلو د پلان مراقبت او ارزونه**

- د زده کړې په جریان کې باید کمون د تاسو سره د مدغم کیدلو د پلان په هکله مرکې تر سره کړي چې په دې پوه شي چې د تاسو پلان څرنګه پر مخ روان دی. که چیرته تاسو د خپل پلان نه تعقیب کوي او یا د خپل پلان مو تغیر کړي دې نو هر څه ژر خپل مشاور سره اړیکه ټینګه کړې او هغه ته دا معلومات ورسوي.

**غواړې چې د مدغم کیدلو پلان باندې مو شکایت وکړې؟**

- تاسو کولای شي چې د زده کړې په پلان یا طرح او د مدغم کیدلو د پلان په محتویاتو باندې شکایت وکړې.

**که چیرې تاسو شکایت وکړ نو لاندیني شرایط باید په پام کې ونیسي:**

- تر درې هفتو وروسته له دې چې تاسو ته فیصله لاس ته راغله باید تاسو د مدغم کیدلو د پلان باندې شکایت وکړې
- شکایت مو د کمون هغه ارګان ته تسلیم کړې چې د تاسو د مدغم کیدلو د پلان فیصله یې صادره کړې ده.
- واضح ولیکې چې تاسو په څه شي شکایت کوې
- تاسو باید شکایت امضاء کړې

یو بل تن هم کولای شي چې د تاسو په استازیتوب شکایت وکړي. ددې لپاره چې یو بل تن د تاسو په استازیتوب شکایت ولیکي تاسو باید هغه کس ته تحریری (وکالت خط) اجازه ورکړې وي. یو وکالت خط باید دا تشریح کړي چې د تاسو وکیل کوم کارونه د تاسو په استازیتوب سرته رسولای شي. که چیرته تاسو وکیل لری بیا د وکالت خط ضرورت نه شته.

**چیرته تاسو د مدغم کیدلو د پلان په هکله ډیر معلومات تر لاسه کولای شي؟**

د مدغم کیدلو د پلان په هکله تاسو کولای شي چې د مدغم کیدلو په قانون کې ډیر معلومات لاس ته راوړې. دغه قانون او مقررې تاسو کولای شي چې په www.imdi.no او د ناروی د علمي مرکز په انترنتي صفحو کې لاس ته رواړي.

د زده کړې لپاره تاسو ښه چانس غواړم!